# د Intrivo On/Go کووېډ-19 انټيجن د ځان آزموينه ځنګه ترسره کړو

**لومړی ګام.** د ازمويني له محل څخه ازموينه ترلاسه کړئ.

**دويم ګام.** د ازمويني اړوند ټولې لارښووني وګورئ.

**درېيم ګام.** ازموينه له محل څخه د باندې ترسره کړئ او د خپلو پايلو لپاره 10-15 دقيقې انتظار وکړئ.

**څلورم ګام.** په **healthvermont.gov/reportresults** خپلې پايلې راپور کړئ او لنډه فورمه ډکه کړئ.

**ستاسو ځواب به محرم وي.**

**پنځم ګام.** که ستاسو د آزموينې د پايلې تثبيت ته اړتيا وي، On/Go اپلېکېشن ډونلوډ کړئ. د خپلې ازموينې پايلې راپور کول مهم دي.

د آزموينې د ژباړل شوو لارښوونو او ښوونيزو ويډيوګانو لپاره، په مهربانۍ سره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ

**www.healthvermont.gov/covid-19/testing**

CIC Health

VERMONT DEPARTMENT OF HEALTH

# په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې

**د Intrivo On/Go کوویډ-19 انټیجن د ځان آزموینه څه شی ده؟**
د Intrivo On/Go کوویډ-19انټیجن د ځان آزموینه د تشخیصي آلې له لارې امینو اېسی ازموینه ده چې د 2-SARS-CoV څخه د نیوکلیوکاپسید پروټین انټیجن د کیفیت کشف کولو لپاره د هغه اشخاصو څخه دی چې نښې نښانې لري یا یې نه لري یا د کوویډ-19 ناروغی د شک لپاره نور هغه ایپیډیمولوژیکي علتونه لري چې په تېرو دریو ورځو کې دوه ځله واکسین شوي دي او لږ تر لږه 36 ساعته واټن د دواړو آزموینو ترمنځ موجود وي. دا ازموینه پرته له نسخې په کور کې د استفادې لپاره تصویب شوې چې پخپله به په کې د پزې دننه (سپړمو) سواب نمونې له هغه کسانو څخه ترلاسه کیږي چې عمر یې 14 کاله یا زیات وي، یا د لوی شخص لخوا د هغه کسانو څخه د پزې د داخلي سواب ترلاسه شوې نمونې چې عمر یې دوه کاله یا زیات وي.

**د کوویډ-19 انټیجن د ځان آزموینه د مالیکلور ازموینې په نسبت څنګه کار کوي؟** انټیجن آزموینې د وایروس لپاره ډېرې مشخصې دي، اما د مالیکولر آزموینو په څېر حساسې نه دي. دا په دې مانه ده چې مثبته پایله سمه ده، اما منفي آزموینه د اخته کېدو مخنیوی نه کوي.

**زما د آزموینې د اعتبار نېټه کله ختمیږي؟** دا مهال، د آزموینې د اعتبار نېټه د میاشتې په وروستی نېټه چې ستاسو په باکس باندې لیکلې ده پای ته رسیږي (د بېلګې په توګه جنوري 2022 د جنوري 31، 2022 په مانا ده). په هر صورت، د EUA په اساس د On/Go په شان طبي محصولاتو سره، FDA له دقیقو څېړنو وروسته، د اعتبار د نېټې موده غځوي. د ډېرو معلوماتو لپاره دغه لېنک ته مراجعه وکړئ او د تمدید د مواردو بشپړ لېست وګورئ
www.letsongo.com/product-updates

**په دې کېټ کې ولې دوه ازموینې دي؟** د On/Go له مخې، دا ازموینه په کاونټر/د ځان د استعمال لپاره هغه وخت فعاله کیږي کله چې خلک په دریو ورځو کې دوه ځله خپله ازموینه وکړي، داسې چې ترمنځه یې لږ تر لږه د 24 ساعتو وخت (چې تر 48 ساعتونو ډېر نشي) موجود وي. دغه دوه شاملې شوې ازموینې خلکو ته فرصت ورکوي چې وړاندیز شوی دوز بشپړ کړي.

**که زما د ازموینې پایلې مثبت وي، نو څه به کیږي؟** که ستاسو پایله مثبت وي، دا ډاډه کوئ چې د دې کارت په بل مخ د ورکړل شوې لېنک له لارې خپلې پایلې راپور کړئ. د اضافي لارښوونو لپاره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ
**healthvermont.gov/covid19positive**

د Intrivo On/GO کوویډ-19 انټیجن د ځان آزموینې په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره لاندې لېنک ت مراجعه وکړئ،
**www.letsongo.com/faq**

2022/1/3